څوک چې له کوم قوم سره مشابهت وکړي نو دی له هغوی څخه دی

له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي: "څوک چې له کوم قوم سره مشابهت وکړي نو دی له هغوی څخه دی".

[حسن] [ابو داود او احمد روایت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي، څوک چې د کافرانو، فاسقانو او یا نیکانو سره مشابهت وکړي؛ چې د هغوی له ځانګړنو عقایدو، عبادتونو او یا رواجونو څخه یو څه تر سره کړي، - نو دی له هغوی څخه دی؛ ځکه چې په ښکاره ورسره مشابهت د دې لامل ګرځي چې باطني مشابهت ورسره پیدا شي، او پدې کې شک نشته چې له یو چا سره ورته والی له هغوی څخه د اغېزمنېدلو په پایله کې کیږي، او کېدی شي هغوی سره د مینې کولو، هغوی ته د درناوي ساتلو لامل شي او دا کېدی شي انسان دې ته اړباسي چې په باطن او عباداتو کې ورسره مشابهت پیدا کړي، الله - جل جلاله - دې تر يې مونږ وساتي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5353